# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندويه خپرونه

قــوه قضائیه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

یک شنبه ۲۴ مرغومی ۱۴۰۲ هـ ش | ۲ رجب المرجب ۱۴۴۵ هـ ق | ۱۴ جنوري ۲۰۲۴ م | مسلسله شمېره (٥٤)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړی ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.

تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې د عالي شورا فوق العاده غونډې ترسره شوې

د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د جمادی الثانيه مياشتې په ۲۴مه او د رجب المرجب مياشتې په دويمه نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا فوق العاده ناستې ترسره شوې.

د سترې محکمې د عالي شورا په دې ناستو کې د عالي شورا غړو محترم شيخ محمدقاسم (راسخ)صاحب، محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) صاحب، محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب، محترم شيخ محمد شريف (حقاني) صاحب او محترم مفتي عبدالرشيد (سعيد) صاحب ګډون درلود.

د عالي شورا په دې فوق العاده ناستو کې د ځو مهمو موضوعاتو په اړه تفصيلي خبرې وشوې.

د سترې محکمې د عالي شورا يادې ناستې د دعاء په ويلو سره پای ته ورسېدې.

## رئیس محکمهٔ مرافعهٔ کاپیسا برای صلح میان چند خانواده به ولسوالی نجراب آن ولایت سفر نمود

روز چهار شنبه مؤرخ ۱۵/ ۵/ ۱۴۴۵هـ ق محترم مولوی میرآقا مشهور به ذبیح الله (خالد) رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کاپیسا با همراهی مفتی عبدالرؤف (سعادت) رئیس محکمهٔ شهری، مفتی سراج الدین (راشد) مفتی دیوان جزا محکمهٔ مرافعه و مفتی محمد قابل مفتی دیوان امنیت عامهٔ محکمهٔ شهری جهت صلح و آشتی میان چند خانواده که با هم مدتی طولانی نزاع داشتند؛ به منطقهٔ «دره گیاوه» ولسوالی نجراب سفر نمود.

در جریان این سفر نزاع و دشمنی طولانی مدت میان چند خانواده که مدتی طولانی دوام داشت و منجر به مجروح شدن تعدادی کثیری از جوانان و زنان شده بود، بعد از سعی تلاش مصلحین منطقه و پا در میانی رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کاپیسا خاتمه یافت، متخاصمین یک دیگر را به آغوش کشیدن، تعهد نمودند پس از این انشاء الله هیچ نزاع در میان مان رخ نخواهد داد.

بعداً رئیس محکمهٔ مرافعه در حالیکه تعداد کثیر از باشندگان محل «گیاوه» حضور داشتند سخنرانی کرد و گفت که الحمدلله امروز حاکمیت شریعت است، حاکمان خواهان تطبیق شریعت هستند، این شریعت است برای مان می فهماند هر وقت در بین برادر مسلمان نزاع صورت می‌گیرد، بر مبنی آیات از قرآنکریم «والصلح خیر» اقدام به صلح نماید.

موصوف افزود، امروز ما نیز به این توصیه در هر جای در میان مسلمان نزاع وجود داشته باشد، تا حتی وسع و امکان می‌رسانیم، قسمیکه امروز شما مشاهده می‌کنید، که منطقه گیاوه دورترین نقطهٔ ولسوالی نجراب است که راه صعب العبور نیز خامه است، بخاطری خیر و خوشحالی مردم در این مکان با جمع از قضات حضور یافتیم.

رئیس محکمهٔ مرافعه در ادامه افزود پس از حاکمیت امارت اسلامی بر اساس هدایت امیرالمؤمنین حفظه الله که گفته است (اختلافات و نزاع که در میان اقوام و خانواده از قبل وجود دارد حل شود) تلاش بر اینست که تمام دشمنی های قبلی بین خانواده ها توسط میانجیگری علماء کرام حل شود، همچنان مردم گیاوه مردم شجاع هستند که تاریخ آنها به همه باشندگان ولایت کاپیسا اشکار است، ان شاءالله که اگر این شجاعت بیشتر در کار های نیک استفاده شود بهتر و افضل خواهد بود.

همچنان در ادامه این دیدار، رئیس محکمهٔ شهری طی سخنرانی اش گفت، در (۴۰) سال گذشته در افغانستان انقلاب جاری بود، یعنی از زمان تولدم تا قبل الفتح بجز از (۵) سال در دوران امارت اسلامی قبلی به قیادت امیر المؤمنین ملا محمد عمر (رحمه الله) دیگر هیچ انقلاب مستقل نبوده است، اکثر آن مبنی اسلامی نداشتند؛ در حالیکه (۹۹) فیصد از مردم افغانستان مسلمان هستند، اما بینش و اندیشه شان متشکل از تیوری پردازان روسیه بودند، یا امریکا و آبشخور آن از همان جا بوده‌است که در افغانستان باقی نمانده اند.

وی افزود، الحمدلله امروز نظام مردمی و اسلامی حاکم شده است، کوشش دارد همرای مردم در هر نقطه از افغانستان باشد ارتباط برقرار کند، این صلح که به وقوع می پیوندد نتیجهٔ سعی و تلاش رئیس محکمه و مصلحین قوم بود، خداوند متعال به هر کوشش شان اجر عظیم و اجر جزیل اعطا کند.

در اخر این دیداز از طرف مفتی راشد مفتی دیوان جزا در بارهٔ فضایل، اهمیت صلح و عواقب نیک آن یاد آوری صورت گرفت و نشست صلح با دعاء خیر به پایان رسید.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۲**

**نېټه: ۲۲ /۱۴۴۵/۵ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

و بعد: د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۲۴) مورخ ۱۴۴۴/۳/۱۰هـ ق په تعقيب احتراماً ليکو:

د کابل ولايت د څلورو زونونو ابتدائيه محکمو استهداء رارسيدلې چې خلاصه يې داسې ده: د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۲۴) په اساس ټولو محکمو ته هدايت شوی وو چې: د ځمکې دعوه چې کله محکمې ته راشي محکمه به اولاً د قضايای امارت رياست څخه د مدعی بها ځمکې په باره کې تحريري معلومات غواړي او دا اطمينان به حاصلوي چې مدعی بها ځمکه خو به امارتي نه وي، کله چې دا معلومه شوه چې ځمکه امارتي نه ده، محکمه دې په موضوع کې شرعي فيصله وکړي او که ځمکه امارتي ثابته شوه په دې صورت کې دې د امارتي ځمکو د غصب څخه د مخنيوي په باره کې اصولي اجراآت تر سره شي، د ياد هدايت مطابق د کابل ولايت د زونونو ابتدائيه محکمو په سلګونو موضوعات قضايای امارت رياست ته استولي دي خو تر ډېر وخت وروسته بيا هم په اړه يې د قضايای امارت رياست لخوا معلومات محاکمو ته نه دي ورکړل شوي.

دا چې د پورته ترتيب په عملي کولو کې د خلګو موضوعات ډېر ځنډېږي ددغه ځنډ څخه د مخنيوي لپاره موضوع د سترې محکمې د عالي شورا مجلس مورخ مورخ ۸/جمادی الأولی/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۱/ قوس/۱۴۰۲هـ ش ته وړاندې شو په اړه يې عالي شورا د تصويب نمبر (۱۱) د څلورمې پريکړې د لومړي جزء په اساس داسې هدايت وکړ:

((کله چې د ځمکې دعوی محکمې ته راشي نو مربوطه محکمه دې د ځمکې د هرې موضوع په اړه د قضايای امارت رياست څخه د معلوماتو غوښتنه نه کوي بلکه يوازې د ځمکې د هغه دعوې په اړه دې د قضايای امارت څخه معلومات غواړي چې قاضي ته دا ويره وي چې دغه ځمکه خو به دولتي نه وي، کله چې د مکتوب په توسط د قضايای امارت رياست څخه د ځمکې په اړه معلومات وغوښتل شوه او د قضايای امارت رياست تر يوې مياشتې پورې د ځمکې په اړه محکمې ته معلومات ورنکړل، محکمه دې موضوع تر اصولي اجراآتو لاندې ونيسي او د ځمکو کوم موضوعات چې د معلوماتو ترلاسه کولو په موخه د محاکمو لخوا د قضايای امارت رياستونو ته استول شوي دي او جواب يې تر اوسه نه دی راغلی د هغه موضوعاتو په اړه دې هم د پورته ترتيب موافق اجراآت تر سره شي.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو ترڅو د هغه مطابق اصولي اجراآت تر سره شي.

**په اجتهاد کې حکمت:**

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په اجتهاد کې حکمت او دا چې صحابه کرامو رضي الله عنهم ته يې د اجتهاد په برخه کې اجازه ورکړې، دا ده چې د اسلام دين د شريعتونو وروستی شريعت دی او د قيامت تر ورځې د ټولو خلکو لپاره همدا يو ( برحقه) دين دی، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وغوښتل چې دوی ته د مسائلو د استنباط طريقه وروښايي او دوی ته به يې د ادله وو څخه د احکامو د را ايستلو برخه کې تمرين ورکاوه، ځکه د دين نصوص او قواعد په تفصيلونو او جزئياتو باندې مشتمل نه دي، ځکه پېښې تر يوې معلومې زمانې پورې نه محدودېږي، ځکه په هره زمانه کې د وخت اوسېدونکو ته داسې واقعات پېښېږي چې مخکنې خلکو بېخي نه پېژندل او نه پرې پوهېدل. دا اړينه خبره واورئ، چې له رواياتو څخه دا څرګندېږي، چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم په قضائي چارو کې ډېر ماهر وو او دا مهارت يې د پيغمبرۍ له وجه نه بلکې د يو حاکم په توګه وه، نبي کريم صلی الله عليه وسلم د شرعيت جوړونکی، قاضي او تنفيذونکی وو، نو له همدې امله د تشريع، تنفيذ او قضائي چارو يو جامع سمبالونکي په توګه يې اجراآت کول، د احکامو تشريع يې د پيغمبرۍ له وجه وه، نه د پاچاهۍ له امله چې په رحلت سره يې دا دنده پای ته ورسېده، مګر دا دوې نورې دندې چې د تنفيذ او قضاء مسؤوليتونه وه، چې بالعموم دا چارې يې په غاړه شوي وې، ځکه چې نبي عليه السلام څخه وروسته دا چارې خلفاء راشدينو د ټولنې د مصلحت په موخه پر مخ بېولې( چې تر اوسه دا چارې د حاکمانو تر غاړې دي).

اخذليک: تتمة النظام، ۳۸ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## دکندهار ولایت محاکمو په یوه میاشت کې د (۷۷۳) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۵۰۳) وثیقې هم اجراکړې دي

د کندهار ولایت د مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، وثایقو او د کندهار نظامي زون محکمې په یو میاشت کې له (۱/ ۵/ ۱۴۴۵ څخه تر ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې د (۷۷۳) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۵۰۳) بېلا، بېلې وثیقې هم اجراکړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**۱ - د مرافعه محکمې دیوانونو په حقوقي برخه کې:**

(۱۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۲۸) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۳) دوسیې فیصله شوې.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې (۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۳۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۹) دوسیې فیصله شوې او (۲۸۸) وثیقې هم اجرا شوې دي.

**۲ - د ښاري ابتدائیه محکمې دیوانونو په حقوقي برخه کې :**

(۱۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۲۹) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۶۴) دوسیې فیصله شوې.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې (۱۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۵۲) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۱۲۶) دوسیې فیصله شوې دي.

**۳: دکندهار ولایت د (۱۹) ولسوالیو محاکمو په حقوقي برخه کې:**

(۳۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۶۴) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۶۷) دوسیې فیصله شوې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې (۲۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۱۱۲) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۴) دوسیې فیصله شوې او (۲۱۵) وثیقې هم اجرا شوې دي.

**۴- دکندهار زون نظامي محکمې:**

په جزائي برخه کې (۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۵) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۱۲) دوسیې فیصله شوې دي.

**په حقوقي برخه کې:**

(۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او د (۱) دوسیې په تړاو قضائي قرار صادر شوی.

## محاکم غور طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۰۹) دوسیه، به تعداد (۱۴۰) وثایق را نیز اجراکرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون غور و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی ها از تاریخ ( ۱/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۶/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۲۸) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده،(۳۷) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله(۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۶) دوسیه قرار قضائی صادر، (۱۳) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۴۰) وثایق مختلف النوع نیز اجراگردیده است.

## محاکم بغلان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۴۵۵) دوسیه، به تعداد (۱۵۰) وثایق را نیز اجرا کرده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بغلان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ( ۱/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۵/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۸۰) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله(۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۲۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۱) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۵) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله(۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۴۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۳) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت بغلان به تعداد (۱۵۰) وثایق مختلف النوع نیز اجراگردیده است.

## محاکم جوزجان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۴۳) دوسیه، به تعداد (۱۳۴) وثایق را نیز اجرا کرده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت جوزجان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ( ۱/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۵/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۵) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله(۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۵) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله(۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۵۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت جوزجان به تعداد (۱۳۴) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم فاریاب طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۳۲۵) دوسیه، به تعداد (۲۸۱) وثایق را نیز اجرا کرده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت فاریاب، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ( ۱/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۶/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۸) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۴۲) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله(۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۶۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۶) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۲۸۱) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محکمهٔ نظامی ولایت بلخ طی سه ماه به تعداد (۲۸۵) قضیه را حل و فصل نموده است

محکمهٔ نظامی ولایت بلخ طی سه ماه گذشته (از تاریخ ۱٤٤٥/۳/۷ هـ ق الی ۱٤٤٥/٦/۷ هـ ق) به تعداد ۲۸۵ قضایای جزائی وحقوقی را حل و فصل نموده است. علاوه بر آن به مدیریت تحریرات محکمهٔ متذکره طی مدت ذکر شده ۱٤۷ عرائض مواصلت ورزیده و به اسرع وقت تحت رسیدگی شرعی وقانونی قرار گرفته است. همچنان طی مدت سه ماه در محکمهٔ نظامی ولایت بلخ به تعداد۳٤۱ مکتوب صادر و وارد گردیده است.

## محاکم هرات طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۴۸۴) دوسیه، به تعداد (۳۰۲) وثایق را نیز اجراکرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت هرات، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۵/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۰۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله(۲۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۸۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۲۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله(۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۵۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۵۳) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۷) دوسیهٔ تجارتی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۶۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۲) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت هرات به تعداد (۳۰۲) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## دکابل ښار د سندونو او وثيقو د ثبت شپږو آمريتونو په يوه مياشت کې (۳۰۸۳) بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثيقو د ثبت شپږو آمريتونو په يوه مياشت کې له ( ۱۶/ ۵/ ۱۴۴۵هـ ق څخه تر ۱۵/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې) (۳۰۸۳) بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي، چې جزئيات يې په لاندې ډول دي:

**۱- د سندونو او وثيقو د ثبت لومړی حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت لومړی حوزې په يو مياشت کې (۳۱۲) نکاح خطونه او (۱۰۴) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۲- د سندونو او وثيقو د ثبت دويمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت دويمې حوزې په يوه مياشت کې (۴۶۷) نکاح خطونه او (۱۱۸) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثيقو د ثبت درېيمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت درېيمې حوزې په يوه مياشت کې (۵۷۶) نکاح خطونه او (۸۱) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثيقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت څلورمې حوزې په يوه مياشت کې (۳۵۷) نکاح خطونه او (۱۳۳) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثيقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت پنځمې حوزې په يوه مياشت کې (۳۸۱) نکاح خطونه او (۷۲) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۶- د سندونو او وثيقو د ثبت شپږمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت شپږمې حوزې په يوه مياشت کې (۴۲۳) نکاح خطونه او (۵۹) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

## محاکم سمنگان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۰۸) دوسیه، به تعداد (۱۰۹) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت سمنگان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۹/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۱/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۶) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۶۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۴) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۷) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۱۰۹) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د بلخ محاکمو په دوو اونيو کې د (۴۰۳) دوسيو پر حل او فصل سربېره (۱۸۲) وثيقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولايت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائيه محکمې، د بلخ زون نظامي محکمې او د ټولو ولسواليو ابتدائيه محاکمو په دوو اونيو کې د ۹/ ۶/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه ۲۱/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې پورې د (۴۰۳) دوسيو پر حل او فصل سربېره، (۱۸۲) وثيقې هم اجرا کړې دي، چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولايت محاکمو ته په دوو اونيو کې (۲۴۰) حقوقي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۵۸) دوسيې فيصله شوې، د (۴۱) دوسيې مکتوبي مستردې شوې، د (۱۷۹) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولايت محاکمو ته په دوو اونيو کې (۱۳۱) جزائي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۷۳) دوسيې فيصله شوې، (۱۱) دوسيې مکتوبي مستردې شوې، د (۴۱) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**د وثيقو برخه کې:**

د بلخ ولايت محاکمو په دوو اونيو کې (۱۸۲) بېلا بېلې وثيقې هم اجرا کړې دي.

## د ننگرهار محاکمو په يوه مياشت کې د (۷۱۰) دوسيو پر حل او فصل سربېره، (۳۷۰) وثيقې هم اجرا کړې دي

د ننگرهار ولايت مرافعه محکمې، وثايقو، ښاري ابتدائيه محکمې او د ټولو ولسواليو ابتدائيه محاکمو په يوه مياشت کې له ( ۸/ ۵/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه تر ۸/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې د (۷۱۰) دوسيو پر حل او فصل سربېره، (۲۷۰) وثيقې هم اجرا کړې دي، چې جزئيات يې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د ننگرهار ولايت محاکمو ته په يوه مياشت کې (۳۶۴) حقوقي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۳۵) دوسيې مکتوبي اجرا شوې، د (۲۳۶) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۸) دوسيې فيصله شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د ننگرهار ولايت محاکمو ته په يوه مياشت کې (۲۵۹) جزائي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۲۲) دوسيې مکتوبي اجرا شوې، د (۳۹) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۶۲) دوسيې فيصله شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د ننگرهار ولايت محاکمو ته په يوه مياشت کې (۱۲۹) تجارتي دوسيې واردې شوې دي.

له دې جملې څخه (۲۲) دوسيې مکتوبي اجرا شوې، د (۱۰۷) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۹) دوسيې فيصله شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

د وثيقو برخه کې:

د ننگرهار محاکمو په يوه مياشت کې (۳۷۰) بېلا بېلې وثيقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم پروان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۳۹) دوسیه، به تعداد (۱۷۰) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت پروان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۹/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۱/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۸۶) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۵۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۷) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۷۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۱۷۰) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس د بدخشان، تخار، بغلان او لوګر ولايتونو له ټولو ولايتي مسؤولينو سره د همغږۍ ناستې ترسره کړې

د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په ځانګړي هدايت د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (درويش) او مفتي عبدالحی (شاکر) د خپلو ولايتي سفرونو په دوام بدخشان، تخار، بغلان او لوګر ولايتونو ته د سفر پر مهال د يادو ولايتونو د والي صاحبانو په ګډون د ټولو ولايتي ادارو له مسؤولينو سره د همږغۍ په موخه ناستې ترسره کړې.

يادو غونډو ته چې د قرآنکريم د مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوې د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (درويش) صاحب په خپلو خبرونو کې وويل، د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په ځانګړي هدايت يې ولايتونو ته سفر پيل کړی دی ترڅو له ولايتي مسؤولينو سره د ولايتي ادارو ترمنځ د همغږۍ د لا ډېرې تقويې او ستونزو ته د ژر رسېدو په موخه خبرې وکړي.

د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس زياته کړه، والي صاحبان، د محاکمو رئيس صاحبان، امنيه قوماندانان، د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکايتونو د اورېدو مسؤولين، د علماوو شورا رئيس صاحبان او غړي او نورو ولايتي مسؤولينو سره د همغږۍ دغه غونډې ځکه ضروري دي چې دوی تر نورو ډېر د ولس له ستونزو خبر او له ولس سره ډېر سروکار لري.

محترم مفتي عتيق الله (درويش) صاحب وويل، ټول مسؤولين بايد په ورسپارل شوي مسؤوليت کې غفلت ونه کړي ؛ خپلې ايماني او شرعي وجيبې په ښه ډول ترسره کړي، په دې صورت کې به هم الله تعالی ترې راضي وي او هم به يې ګرانو هيوادوالو ته په ښه ډول خدمت کړی وي.

پر دې سربېره محترم مفتي صاحب په اسلامي نظام کې د ټولو ادارو د همغږۍ او اصولي همکارۍ په اړه وويل، د اسلامي نظام اداري د ځنځير د حلقو په څېر دي، هره اداره د بلې اداري همغږۍ او همکارۍ ته اړتيا لري، په دې خاطر د ادارو ترمنځ د همغږۍ او همکارۍ يوې تګلارې ته ضرورت دی چې په دې غونډو کې به يې د جوړېدو لپاره کار وشي.

محترم مفتي درويش صاحب له ولايتي مسؤولينو او عامو هيوادوالو غوښتنه وکړه چې پر خپلو مشرانو په ځانګړې توګه د محاکمو پر مسؤولينو باور ولري او زياته يې کړه، د اسلامي امارت ټول مسؤولين ځانونه د ولس خدمتګاران ګڼي، خپلې دندې امتياز نه بلکې مسؤوليت ګڼي، هڅه کوي چې د الله تعالی په نصرت خپلې دندې د شرعي احکامو مطابق ترسره کړي.

دغه راز د غونډو ټولو ګډونوالو د همغږۍ د تقويې په اړه خپل نظرونه شريک کړل او ژمنه يې وکړه چې ټول به په پوره صداقت او ايمانداري د اسلامي نظام د حاکميت، ولس د خدمت او د جرايمو د مخنيوي برخه کې په بشپړه همغږۍ نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي.

د يادونې وړ ده چې د هر ولايت ولايتي مسؤولينو د سترې محکمې د دغه پلاوي له سفر د مننې ترځنګ د همغږۍ د غونډو په جوړېدو خوښي څرګنده کړه وويل، موږ خوشحاله يو چې د سترې محکمې د مؤظف پلاوي په مشرۍ د ولايتي مسؤولينو ترمنځ د همغږۍ غونډې ترسره شوې، يادې غونډې به په امنيتي، قضائي او ا داري برخو کې د چټکتيا او ښه خدمت لپاره ډېرې ګټورې ثابتې شي.

بايد وويل شي چې د سترې محکمې د جزا دېوان د عمومي رئيس په مشرۍ مؤظف پلاوی بلخ، سرپل، فارياب، جوزجان، کندوز، سمنګان بدخشان، تخار او بغلان ولايتونو ته تر سفر وروسته شنبه (۱۶/جمادی الثانی/۱۴۴۵) هـ ق نېټه سترې محکمې ته راستون شو.

سرپرست مسئوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي ریاست کې د محاکمو قضائي غړو ته د ظرفیت لوړونې علمي سیمینار پای ته ورسېد

دیکشنبې په ورځ (۲۴ /۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټه د سترې محکمې اړوند قضائي زده کړو ریاست کې د بېلا بېلو ولایتونو د قضاتو، مفتي صاحبانو او محررینو د ظرفیت لوړونې په موخه قضائي علمي سیمینار پای ته ورسېد.

په دغه سیمینار کې چې په ۱۴۴۵/۵/۷ هـ ق نېټه د سترې محکمې د محترم مقام په هدایت د قضاتو، مفتیانو او محررینو د قضائي ظرفیت لوړونې په موخه جوړ شوی او ۴۸ ورځې یې دوام درلود؛ د بېلا بېلو ولایتونو د محاکمو ۳۸ جدیدالتقرر قضائي غړو ګډون کړی و.

د سیمینار ګډونوالو ته د مؤظفو استادانو او شیوخ کرامو لخوا د قضاء مسلک کې عملي او نظري روزنه ورکړل شوه.

د قضائي تعلیماتو ریاست عمومي رئیس محترم مولوي عبدالرحمن (غزنوي) صاحب وویل، د سترې محکمې ډېره توجه پر دې ده چې مسلکي قاضیان وروزي ترڅو د هیوادوالو دوسیو ته ژر او اصولي رسېدنه وشي.

نوموړي زیاته کړه، په دغه سیمینار کې د بېلا، بېلو ولایتونو ۳۸ قضائي غړوګډون درلود او په پوره دقت او کمال د توجه ورته د مسلکي شیوخ کرامو او استادانو لخوا عملي او علمي تدریس ترسره شو.

د قضائي زده کړو عمومي ریاست استاد محترم شیخ صاحب جان وویل، په دغه سیمینار کې موږ شپږ ساعته په نظري ډول اصولنامې، معین القضات، د وثایقو لاربښود، د تحریر اصول او نور ضروري کتابونه تدریس کړل، له هغې وروسته به مو د سیمینار په عملي برخه کې د تدریس شوو موضوعاتو په برخه کې د سیمینار په ګډونوالو عملي کارونه ترسره کول.

د سیمینار یو تن ګډونوال د یاد سیمینار د جوړېدو په اړه وویل، د شکر ځای دی چې الله تعالی زموږ پر خلکو احسان کړی او اسلامي حکومت یې راوستلی دی، په دغه سیمینار کې د سترې محکمې لخوا د تحقیق او تدقیق برخه کې ډېر ګټور او دقیق درسونه تدریس شول.

دغه راز د سیمینار بل ګډونوال د سترې محکمې له محترم عالي مقام په ځانګړې توګه د قضائي زده کړو عمومي ریاست له مسؤولینو مننه وکړه چې قضاتو ته یې دغه ګټور علمي او عملي سیمینار جوړ کړی و.

نوموړي غوښتنه وکړه چې په راتلونکې کې هم دغه ډول ګټور سیمینارونه ترتیب او د محاکمو قضائي غړو د ظرفیت لوړونې برخې ته لا ډېره توجه وکړي.

## کندهار ولایت کې څلورو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

یکشنبه (د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د جمادی الثانیه میاشتې په ۲۴مه نېټه) دکندهار ولایت د مرافعه محکمې د جزا دېوان د حکم په اساس څلورو کسانو ته چې پر لواطت متهم وو، د مرافعه محکمې په انګړ کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

د متهمینو دوسیې محکمې ته تر راجع کېدو وروسته د کندهار د مرافعه محکمې د جزا دېوان لخوا په دقت وڅېړل شوې ؛ یاد دېوان متهمینو ته پر ۱۸ میاشتې تنفیذي بند سربېره هر متهم ته د (۳۹) دُرې تعزیري سزا د تطبیق فیصله وکړه، دغه فیصله د جنوب لوېدیځ زون د تمیز عالي مقام او د سترې محکمې د قضائي معاونیت لخوا هم تائید شوه.

متهمینو ته د تعزیري سزا د حکم د تطبیق پر مهال د محاکمو پر مسؤولینو سربېره مراجعینواو عامو هیوادوالو هم ګډون درلود.

## رئیس محکمهٔ مرافعهٔ غور از محبس آن ولایت دیدار نمود

به تاریخ ۳/ ۶/ ۱۴۴۵هـ ق محترم الحاج مولوی سخی الرحمن (فایز) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت غور همراه با رئیس دیوان جزای مرافعه، رئیس دیوان امنیت عامهٔ شهری، عضو دیوان امنیت عامهٔ مرافعه و یک تن از کارمندان اداری محکمهٔ مرافعه از محبس ولایت غور بازدید نمود.

در این دیدار رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه ابتداء با مفتی محمد اسلم (اسلامی) آمر محبس و سایر پرسونل ملاقات نمود، بعداً در بخش صحی، کلینک آن آمریت رفت، امکانات صحی آن را مشاهده نمود، با مسؤولین کلینک محبس صحبت و از امکانات بخش صحی شان جویا گردید.

در ادامه به بخش توقیف‌خانه مردانه و اناثیه رفت و در محوطهٔ محبس که تمام محبوسین حضور داشتند، از تک _تک محبوسین مشکلات شان را طوری شفاهی از زبان خود شان استماع نمود، ضروریات آنهار را یادداشت و وعده رسیدگی قانونی را به آنها داد.

رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ غور خطاب به محبوسین محبس متذکره صحبت ها و توصیه های عالمانه را ایرائیه فرمود و آرزو نمود تا محبوسین بعد از رهایی از محبس افراد سالم و شایسته باشند، که هر کدام باعث ایجاد نظم، آرامش به خانواده های خود، دوم در اجتماع باشند، تا جامعه ما در حد به زندگی مسالمت آمیز دست یابد که نه جرمی صورت بگیرد و نه کسی سلب آزادی گردد.

در ادامه این دیدار تمام بخش ها و سلول های این محبس را مورد بررسی قرار داد، معلوم گردید محبوسین از برخورد نیک پرسونل محبس اظهار رضایت دارد، ازلحاظ جای بودوباش، خرچ و اعاشه، صحت و غیره سهولت ها کدام شکایت وجود نداشت.

در اخر این دیدار به تعداد (۸) نفر مرد و (۱) تن زن آن محبس که به جرایم مختلف محبوس بودند و مدت میعاد حبس شان تکمیل بوده از حبس رها نمودند.

## د سترې محکمې د قضائي تفتیش عمومي ریاست مفتشینو د لوګر له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام په هدایت د قضائي تفتیش عمومي ریاست یوه پلاوي چې محترم مولوي سیف الرحمن (ذاکر) یې مشري کوله او مولوي عبد الوارث (سعید) او مولوي رحمن الدین (حقاني) یې غړیتوب درلود، د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د جمادی الثانیه میاشتې په ۲مه نېټه د لوګر ولایت د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړنو په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

یاد پلاوي د سفر او لیدنې په پیل کې د لوګر ولایت د مرافعه محکمې له محترم رئیس سره وکتل، ورپسې یې د بندیانو ستونزو د څېړلو په موخه د دغه ولایت له مرکزي زندان (محبس) څخه لیدنه وکړه، د یاد محبس اړوند د ټولو بندیانو بشپړ شهرت، کیفیت او نظرونه یې له ځان سره ولیکل او بیا یې د اړونده محاکمو له مسؤولینو سره شریک کړل.

د سترې محکمې د عالي مقام لخوا ټاکل شوي پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د یاد ولایت د (۶) ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو، ښاري مرافعه محاکمو اړونده دېوانونو ، وثایقو آمریت او حقوقو آمریت څخه په جلا ډول لیدنې وکړې.

نوموړي پلاوي د څارنې بهیر په ترڅ کې د یادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخیزه پلټنه تر سره کړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات یې واخیستل او د چارو د سمون په برخه کې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

یاد پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او لوژستیکي نیمګړتیاوې له ځان سره ولیکلې او د لیدنې په وروستیو کې یې د ستونزو د حل، خنډونو د له منځه وړلو، د شته نیمګړتیاوو د اکمال په اړه د لوګر ولایت د مرافعه محکمې د ریاست له مقام سره تفاهمي ناسته وکړه او ټولې ستونزې یې په جلا- جلا توګه ورسره شریکې کړې.

د یاد سفر په دوام مؤظف پلاوي د ولسوالیو له مسؤولینو سره ناستې وکړې، د محاکمو د فعالیتونو د لا ښه پرمختګ او د ځینو اړوندو ستونزو د حل په اړه یې د هغوی نظرونه هم واورېدل او د محاکمو پر وړاندې شته ستونزې او د خلکو شکایتونه یې په دقیق او هر اړخیزه توګه وڅېړل.

د قضائي تفتیش د څارنې او پلټنې پلاوي یاد له لاسته راوړنو ډک دوولس ورځنی سفر د ۱۴۴۵ هـ ق کال د جمادی الثانیه میاشتې په(۱۴مه) نېټه پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۳**
**نېټه: ۲۲ /۵/ ۱۴۴۵ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

و بعد: د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه محترم عالي مقام حکم نمبر (۲۵۷۶) مورخ ۱۴۴۵/۵/۲۰هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۹/۱۳هـ ش رارسېدلی او په یاد حکم کې سترې محکمې ته داسې هدایت شوی دی:

((د مالیې وزارت او ښاروالیو اړوند موضوعګانو ته په خپلو کارونو کې اولیت ورکړئ او آینده دې د دوی موضوعګانې ابتدائیه محکمې په شل ورځې کې، مرافعه محکمې په پنځلس ورځې کې او تمیز دې په یوه میاشت کې ترسره کیږي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام پورته تحریر شوی حکم ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه مطابق اصولي اجراآت ترسره شي.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳